مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور
۲۰۲۶/۰۶/۰۷

# نظم

که یو مړی ببرته بیا ژوندی کېدای شوای
که هغې دنیا نه دلته ځوک راتلای شوای

بیا په ګروهو نه کېدل تجارتونه
خرڅېدل به نه په خوارو جنتونه

نه بې پلاره د یتیمو پرېښودل و
نه به پټې سترګې سور اور ته دانګل و

سر ساتلو کې به دومره نه و شرم
نه به دومره و بازار د حورو ګرم

بیا به دا دنیا کټ مټ لکه جنت وه
څه اړتیا به په انسان د تجارت وه؟!

بیا به ځوک پدې مزو شیدایان نه و
بیا به حورې او غیلمان خدایان نه و

بیا به ذهن کې د چا بل معبود نه و
بیا به شاتو او شودو ته سجود نه و

د باور به عیش عشرت ته کمین نه و
بې له خدایه به په هیچا مئین نه و


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ